# د شري يا سرخکان معلوماتي پاڼه

**د شري يا سرخکان واقعات او شيوع لاهم په کاناډا کې پيښيږي.** د شري واقعات ډيرى وخت هغه مهال رامنځته کيږي چې يو شخص چې واکسين شوى نه وي سفر وکړي يا له داسې يو هيواد څخه راشي چې پکې د شري ناروغي خپره شوې وي. وروسته بيا دا ناروغي په کاناډا کې د هغو خلکو په منځ کې خپريږي چې واکسين شوي نه دي يا له مخکينۍ ناروغۍ څخه معافيت نلري.

## نښې نښانې

- لومړنۍ نښې نښانې دا دي: تبه، ټوخى، بهيدونکې پوزه، او سرې اوبړنې سترګې.
- د نښو نښانو له پيليدو څخه 3 - 7 ورځې وروسته، په مخ باندې کوچنۍ **سرې دانې** پيليږي او دا دانې د بدن نورو برخو لکه لاسونو او پښو ته سرايت کوي. دغه دانې د سرو داغونو په څير ښکاري چې دا داغونه له 4 تر 7 ورځو پورې دوام کوي. په تورو پوستکو کې ددې سرو داغونو ليدل ګران وي او کيدى شي ارغواني يا تياره رنګ ولري.

## خطرونه

**هرڅوک چې د شري يا سرخکان په عفونت اخته وي کيدى شي اختلالات او پيچلتياوې رامنځته کړي. لاندې کسان له شري څخه د رامنځته شويو اختلالاتو له لوى خطر سره مخ کيږي:**

- له 5 کلونو څخه کوچني ماشومان، په ځانګړې توګه نوي زيږيدلي ماشومان چې عمر يې د واکسين کيدو لپاره ډير کم دى.
- حامله ښځې
- هغه کسان چې د معافيت سيستم يې کمزورى وي

په لړو پيښيدونکو حدې پيچلتياوو کې کوښوالى او د مغزو حراحت يا ژوبله شامله ده چې د مغزو له التهاب څخه رامنځته کيږي او حتى د مرګ لامل کيدى شي.

که تاسو له شري يا سرخکان سره مخ شوي ياست او معافيت نلرئ، **تاسو په شري د اخته کيدو له خطر سره مخ ياست.** د دې لپاره چې معافيت ولرئ، تاسو بايد:

- واکسين شوي ياست يا
- مخکې مو په لابراتوار کې تشخيص شوى د شري عفونت لرلى وي يا د شري په وړاندې د معافيت لابراتواري شواهد ولرئ.



## شرى يا سرخكان يوه ساري ناروغي ده

**له 90% څخه ډېر خلک چې د شري معافيت نلري او له دي ويروس سره مخامخ کيږي، کيدی شي په دي ناروغۍ اخته شي.** هغه خلک چې په شري اخته کيږي کولی شي مخکې له دې چې سرې داني يې په پوستکي راڅرګند شي او مخکې له دې چې وپوهيږي په شري اخته دي، نورو خلکو ته دغه ويروس انتقال کړي. ميندو او پلرونو څخه غوښتنه کيږي ژرخو ډاډ ترلاسه کړي چې د ولايتي يا ساحوي مهال ويش سره سم، ماشومانو ته د شري واکسين تطبيق کړي.

## د شري مخنيوى

- اخيستلو سره کيږي. دغه واکسين په 12 مياشتو عمر کې پيليږي. که تاسو يا ستاسو ماشوم په خپل وخت سره واکسين اخيستى نه وي، تاسو بياهم کولی شئ چې واکسين ترلاسه کړئ.
- د شري ضد واکسين 2 ډوزونه د شري په مخنيوي کې 100% اغيزه لري. د شري ضد واکسين 2 ډوزونه د ماشومانو، نويو ځوانانو او لويانو لپاره سپارښتنه کيږي. په خپل ولايت يا سيمه کې له ډاکټر يا د عامې روغتيا له سيمه ييزې ادارې سره د شري د واکسين د سپارښتنو په اړه خبرې وکړئ.
- که پلان لرئ چې له کاناډا څخه بهر سفر وکړئ، له سفر څخه نږدې 6 اوونۍ مخکې له ډاکټر يا د عامې روغتيا له سيمه ييزې ادارې سره خبرې وکړئ ترڅو دا روښانه شي چې تاسو ټول اړين واکسينونه ترلاسه کړي يا د شري ضد لازياتو واکسينونو اخيستلو ته اړتيا لرئ.

**که تاسو فکر کوئ چې له شري سره مخامخ شوي ياست يا په شري اخته شوي ياست**

- که تاسو فکر کوئ چې تاسو يا ستاسو کورنۍ له شري سره **مخ شوي ياست** او واکسين شوي نه ياست (يا په تيرو وختونو کې مو د شري ناروغي نه درلوده)، ځان منزوي کړئ او ژر تر ژره خپل ډاکټر يا د عامې روغتيا ادارې سره اړيکه ونيسئ او د لارښووني غوښتنه وکړئ.
- که تاسو د شري **نښې نښاني** لرئ، ځان منزوي کړئ او ژر تر ژره له يو ډاکټر سره اړيکه ونيسئ. ډاکټر کولی شي تاسو وګوري او نورو خلکو ته د دې ناروغۍ د خپريدلو مخنيوى وکړي.

## د شري د خپريدنې په مخنيوي کې مرسته وکړئ.

که تاسو ډاډه نه ياست چې تاسو او ستاسو کورنۍ ټول اړين واکسينونه ترلاسه کړي دي او نه ترلاسه شوي واکسينونه بايد ترلاسه کړئ، له خپل ډاکټر يا د عامې روغتيا له سيمه ييزې ادارې سره اړيکه ونيسئ. د لازياتو معلوماتو لپاره، **Canada.ca/measles** انټرنيټي پاڼې ته ورشئ.

© په کاناډا کې د حقوقي چارو مسؤل اعليحضرت پادشاه د عامې روغتيا د ادارې په استازيتوب، 2025
Pub: 240926 | Cat: H14-619/2025Pus-PDF | ISBN: 978-0-660-76199-2